# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد          بدین بوم وبر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

| Literary - Cultural | ادبی ـ فرهنگی |
|---|---|



محمد اسحق برکت
ویرجنیا، ۲۱ آگست ۲۰۰۸


## به استقبال پورتال زیبای

## "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان"

دیری نمی گذرد که با کمپیوتر اندکی آشنا و بالوسیله به انترنیت راه یافتم و از آنجا مستقیم به سایت های افغانی گذر رفت. یکی دو وبسایتی را که سراغ داشتم دق الباب کردم آنجا مطالب خوبی یافتم و مستفید شدم تا اینکه ناگهان چشمم به خبر افتتاح پورتالی به نام "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان" که در افق نشراتی کشورم نو طلوع کرده است ، افتاد. وقتی خوبتر متوجه شدم دریافتم که درست این همان صفحه ایست که من در انتظارش بودم. فردای آن روز آدرس گرفته به سراغ پورتال رفتم و آن مصادف به روزی بود که هشتاد و نهمین سالروز استرداد استقلال کشور را تجلیل می کردیم که به افتخار آن این نشریه هم رسماً آغاز به کار کرده است.
پیش از آنکه به محتوای آن گذر کنم دیزاین و دیکور صفحات و مقبولی عناوین و نوشته هایش مرا بیشتر به خود معطوف گردانید؛ آنرا چندین بار از نظر گذشتاندم و مرا بر آن داشت تا سوغاتی به این پورتال تقدیم نمایم. تحفه و پیشکشی خوب و بهتر ازین شعر که به طبع و مزاج وطنخواهان برابر است، چیز دیگری نیافتم که تقدیم نمایم و آنرا به گردانندگانش تبریک گویم.

## یو افغان یو، یو افغان یو

له واخـــــــــــــــــانه را نیولي تر نیمروزه تر خیبره
د **آرین** په نـــــــــــــــــوم یادیږو د **یما** سکه بچیان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

ننګرهار که کندهار دی، زمونــږ هیواد د سترګو تور دی
که لوی شوی یو لوګر کی یا په غور کـــــــی یا بامیان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

په ګردیز او کلبهار او پکتیکا باندی ویاریــــــــــږو
که پراته یو پکتیا کــــــــــــی په بادغیس یا سمنګان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

که اچولي مو کیـــــــــــږدی خپله غزنی کی یا مزار کی
که مینته یو په هـــــــــــــرات کی یا فراه یا هلمندیان یو

## يو افغان يو، يو افغان يو

غليمانو يو بيل کـــــــــړی يو له بله دلته هلته
سره يَو يُو د کابل يا بدخـــــــــــشان که د لغمان يو

## يو افغان يو، يو افغان يو

د بيرحمه بی انصافه د پـــــــــــردو مريانو لاسه
چی پراته يو په کمپو کـــــی يا بيل چيری فراريان يو

## يو افغان يو، يو افغان يو

پښتانه او تاجکان دی سره ورونه له پخـــــــــوا نه
که ازبک او که بلوچ هزاره که پنجشيـــــــــريان يو

## يو افغان يو، يو افغان يو

مذهبی او لسانی تبعيض نه کــــــــرکه او نفرت کړو
که هنـــــــــــدو که موسوی ، عيسوی که مسلمان يو

## يو افغان يو، يو افغان يو

وطن بڼ دی د ګلانو دغه بڼ په مونـــــږ سمسور دی
چی يو موتی يو پخپل کـــــی د دی بڼ ښايسته ګلان يو

## يو افغان يو، يو افغان يو

وطن شمعه ده بليږی تري تاويږو او چـــــــــاپير يو
دا ډيوه دی وی تل بله موږ د هغـــــــــــه پتنګان يو

## يو افغان يو، يو افغان يو

يو د بل په غم شريک يو په ښادی کـــــی هم يو شاني
دا چی دلته يو اخته که په زابل کـــــی يا جوزجان يو

## يو افغان يو، يو افغان يو

وطنوالو سره يو شی د وحـــــــــــدت لاسونه ورکړی
که نه هسی به بيځــايه بی وطنه تل تر تله سرګردان يو

## يو افغان يو، يو افغان يو

هغه څوک چی هلی ځـــــلی په قلم يا په قدم يا په درهم کړی
د وطن د آزادی په لور روان دی مونږ دهغوی پلويان يو

## يو افغان يو، يو افغان يو

نه يواځی **"برکت"** پر خـــــــــپل وطن باندي مين دی
تاريخ ګواه دی چی مونږ ټول د خپلی خاوري مينيان يو

## يو افغان يو، يو افغان يو